# خالۍ له بوټو سره خبرې کوي.


Ursula Nafula
Jesse Pietersen
Darakhte Danesh


2

پښتو ps

دا خالۍ ده. اووه کالنه دی. د هغې ژبه چې خبرې پرې کوي لوبوکوڅو نومیږي او غوره مانا ورکوي.

کله چې له خوبه جګېږی د مالتټې له ونې سره خبرې کوي او
ورته وايي چې هيله کوم ژر پخه شه او مورږ ته مالتټې راکړه.

کله چې خالۍ د ښوونځي پر لاره روانه وي، له واښو سره هم خبرې کوي او غوښتنه یې دا وي چې ژر وچ نه شي او همداسې زرغون پاتې شي.

. کله چې خالۍ د ځنګل تر ثنګ روانه وي، له دوی هم
همدا هیله کوي چې د ځنګل ګلانو همداسې زرغون اوسئ
چې زه مو په اوربل کې کښېښیږدم.

. نوموړې د ښوونځي د غټې ونې لاندې ناسته وي او ورته
وايي چې ونې اوږد ښاخونه ولره چې موږ مو تر سيوري
لاندې کښينو.

خالۍ د ښوونځي دیوال ته وايي هیله کوم غښتلی اوسه،
نا اهله او کوڅه ډب هلکان د ننه ښوونځي ته مه را پرېږده.

کله چې خالۍ له ښوونځي څخه د کور په لور روانېږي، د مالټې ونې ته ګوري او ورته وايي چې مالټو پخې شوې نه يې.

خالۍ سوړ اسویلی وکړي او له ځان سره ووايي، لا هم پخې شوي نه دي او د صبر په بڼه وايي، خير کيدای شي تر سبا پورې پخې شي.

# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## خالې له بوټو سره خبرې کوي.

Ursula Nafula
Jesse Pietersen
Darakhte Danesh

CC BY